# تر هغه پورې صبر وکړه لکه څومره یې چې حېض کې کوې، بیا غسل وکړه

له أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی وايي چې: ام حبیبة بنت جحش چې د عبد الرحمن بن عوف مېرمن وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له وینې شکایت وکړ، نو هغه ورته وفرمایل: «تر هغه پورې صبر وکړه لکه څومره یې چې حېض کې کوې، بیا غسل وکړه». نو هغې به د هر لمانځه لپاره غسل کاوه.
[صحيح] [مسلم روایت کړی]

د صحابه وو یوې مېرمنې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د وینې د پرلپسې له راتلو څخه شکایت وکړ، نو امر یې ورته وکړ چې په دومره اندازه لمونځ پرېږدي لکه څومره به یې چې د حېض لپاره پرېښوده، مخکې لدې چې دا بیړنی حالت پرې راشي، بیا به غسل کوي او لمونځ به کوي، نو هغې به په خپله خوښه د هر لمانځه لپاره اودس کاوه.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee